# د آخِرت فِکر
# ضرور کول دي

17-November-2022

هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

په 17 نومبر کال 2022ء د پاکستان په هفته واره اجتماع کښې کيدونکے بيان

# د آخِرت فِکر ضرور کول دي

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---د دنيا په فِکرونو کښې اوسيدل د هلاکت سبب دے
- --- "اوږد اُمِّيد" د نني دور لويه مسئله ده
- ---د انسان، مرګ او اُمِّيد مثال
- --- درې حيرانيدونکي خلق
- --- د آخِرت د فِکر په باره کښې د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُعا

پيشکش
اَلْمَدِيْنَۃُ الْعِلْمِيَۃ (اسلامِک ريسرچ سنټر)
(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت ابو حفص کاغذي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئي سردار وو، د هغوئي د وفات نه پس چا هغوئي په خوب کښې اوليدلو او پوښتنه ئي ترې اوکړله: الله پاک ستاسو سره څه معامله اوفرمائيله؟ جواب ئې ورکړو: الله پاک رحم اوکړو، زه ئې اوبخښلم او جَنَّت ئې راته عطا کړو- خوب ليدونکي پوښتنه اوکړه: په څه وجه؟ اوئې فرمائيل: د الله پاک په بارګاه کښې زما حاضِري اوشوه، زما حساب واخستلے شو، فرښتو ته حُکم اوشو: د ده ګناهونه اوشميرئ! فرښتو ګناهونه اوشميرل- بيا حکم اوشو: ده چې په دُنيا کښې زمونږه په **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې کوم درود شريف لوستلے دے، هغه اوشميرئ! فرښتو زما لوستلے درود شريف اوشميرلو- بس زما لوستلے درود شريف زما د ګناهونو نه زيات راوختلو- نو الله پاک اوفرمائيل: بَس! اے فرښتو کافي دے- د ده نور حساب مه کوئ! دا زمونږه جنَّت ته بوځئ---! (1)

قُربِ خُدا ہو حاصِل جنت میں ہو وہ داخل
جس نے لکھا پڑھا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد

جانے بھی دے اِرم کو رِضوان نہ روک ہم کو
سینے پہ لکھ لیا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد

جنت مقام ہو گا دوزخ حرام ہو گا
گر دل پہ لکھ لیا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... القولُ الْبدِيْع،صفحہ:124۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّۃُالْحَسَنَۃُتُدْخِلُ صَاحِبَهَاالْجَنَّۃَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي-[2]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي- راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې❀ د الله پاک د رضا د پاره به پوره بيان اورم. ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ ښه په توجو به بيان اورم ❀ څه چې واورم د هغې به د يادولو، ښچپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## انسان ته به هغه څه ميلاويږي کوم ئې چې مخکښې ليږلي وي

يو ځل حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خليفه سليمان بن عبد الملک سره د سفر د پاره روان شولو- (مخکښې دور کښې به په اوښانو او اَسونو وغيره باندې سفر کيدلو او د خادِمانو په ذريعه به خيمې او د ضرورت سامان مخکښې منزل ته رسولے شو د پاره د دې چې هلته د رسيدو نه مخکښې خيمې تيارې شي)، نو هم دغه شان خليفه بن عبد الملک او نورو خلقو خپلې خيمې مخکښې اوليږلې خو حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل سامان او خيمې مخکښې اونه ليږلې- کله چې منزل ته اورسيدل نو هر کَس خپلې خيمې ته لاړلے-

خو حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چرته په نظر رانغلے، خليفه خادِمانو ته اووئيل: لاړ شئ! هغوئي اولټوئ---!! چې اولټولے شو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې حالت کښې بيامونډلے شول چې د يوې وَنې لاندې ناست وو او په سلګو سلګو ئې ژړل- خليفه خبر کړے شو، هغه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه راوبلل او پوښتنه ئې اوکړه: اے اَبُو حَفص (عمر بن عبد العزيز)! تاسو ولې ژاړئ؟ حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **د آخِرت په فِکر** کښې ډوب، د عبرت نه ډَک جواب ورکړو، اوئې فرمائيل: ماته د قيامت ورځ راياده شوله- اوګورئ! (تاسو ټولو خيمې مخکښې رااليږلې وې، تاسو چې راغلئ نو خپلو خپلو خيمو ته لاړئ خو) ما د کور نه يو څيز هم مخکښې نه وو رااليږلے، ځکه ماته دلته هيڅ ميلاؤ نه شو، په قيامت کښې به هم دا حال وي، چا چې څه مخکښې ليږلي وي، هغوئي ته به هم

---

[2]...مسند فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895-

هغه میلاویږي- [(3)]

| | |
|---|---|
| ہائے حُسنِ عمل نہیں پلّے | حَشر میں میرا ہو گا کیا یارَبّ! |
| آہ!طُغیانیاں گناہوں کی | پار نیّا مری لگا یارَبّ! |
| گرمیِ حَشر، پیاس کی شِدَّت | جامِ کوثَر مجھے پلا یارَبّ! |
| خوفِ دوزخ کا آہ! رحمت ہو | خاکِ طیبہ کا واسطہ یارَبّ! |
| میرا نازُک بدن جہنّم سے | از طفیلِ رضا بچا یارَبّ! |
| کر دے جنّت میں تُو جَوار اُن کا | اپنے عطّار کو عطا یارَبّ! [(4)] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## یا اللّٰه! په حشر کښې به زما څه کیږي

اے عاشقانِ رَسُول! واقعي ده چې حقیقت هم دغه دے- دا دنیا زمونږه مُستقل ځائے نه دے- دنیا د آخِرت پټے دے- دلته چې مونږه څه کَرو، هغه به په آخِرت کښې ریبو- آه! ډیر زر هم هغه وخت راتلونکے دے، چې کله به عزرائیل عَلَیْهِ السَّلَام تشریف راوړي، که مونږه ډیر تدبیرونه اوکړو، لاس خپې اووهو، څه هم اوکړو، هغه به زمونږه رُوح قبض کړي، آه! بیا به ډیر زر مونږه تیاره قبر ته کوزولے شي، نه څوک ملګرے، نه څوک حال پوښتنې والا--!! په تَکه توره تیاره قبر کښې به تر قیامته پورې یواځې اوسیدل وي، بیا د قیامت هغه وحشناکه نظاره--!! د تانبې سرَه زمکه، اور ورِوونکے لمر، خلق به په خپلو خوَلو کښې ډوب وي، د تَندې نه به ژبه راوتلې وي او سینې ته به رارسي، زړه به خُلې له راځي، بیا به زمونږه عمل نامه مونږ له په لاسونو کښې راکړے شي، قهر ته به مخامخ یو، آه! هغه وخت چې مو څه کړي وي هغه ټول به مخامخ راشي-

اے عاشقانِ رَسُول! لږ تصور خو اوکړئ! هغه وخت چې عمل نامه د نیکو نه خالي اووینو نو څومره آرمان به کوو--!! بیا بیا به خیال راځي، هئي! هئي! ما خو ژوند په لوبو کښې تیر کړو، د آخِرت د پاره خو مې هډو څه جمع نه کړل، زما سره خو صِرف د مال ګټلو فِکر وو، د نیکو کولو د پاره خو هډو وخت میلاؤ نه شو، زما سره د ګاډو اخستو، د بنګلو د جوړولو خو غم وو، په جنَّت کښې د محل جوړولو خو مې هډو سوچ نه وو کړے، آه! په سوشل

[3]...سیرة عمر بن عبد العزیز لابن عبد الحکم،صفحه:27-
[4]...وسائلِ بخشش،صفحه:79 تا 81 ملتقطًا-

ميډيا، فيس بُک، يوټيوب وغيره باندې خو د ګناهونو نه د ډَکو کارونو کولو د پاره راسره ډير وخت وو، د لمونځ او تلاوت او د نيکو عملونو د پاره خو راته هډو وخت ميلاؤ نه شو، دفتر ته د تللو د پاره خو به راپاڅيدم، د سحر د لمونځ د پاره د راپاڅيدو توفيق مې نه وو، آه! ژوند بَس د دُنيا د عارضي، فاني، د يو څو ورځو د مستقبل جوړولو په فِکر کښې تير شو، آخِرت هم راتلونکے دے، رَبِّ کريم ته حاضريدل هم دي، د ژوند د هر يو عمل جواب هم ورکول دي، په دې باره کښې مې خو هډو سوچ نه وو کړے، آؤ! په هديره به تيريدم خو په زړه کښې د غفلت ساتلو، سر ښکته کولو سره به په چپه چپتيا سره تيريدم، په جنازو کښې د شرکت کولو موقعې به هم ميلاويدلې خو د دې نه مې کله هم عبرت نه وو اخستے، په کوڅه، **محله** کښې، د خپلو دوستانو، خپلوانو بلکه د خپل کور نه مې هم اوچتې شوې جنازې ليدلې خو **زه به هم مرَم** دا سوچ خو مې چرې هم نه وو کړے- آه! ژوند مې په غفلت کښې تير کړو، اوس عمل نامه خالي ده- کاش! چې ما په دُنيا کښې فِکر کړے وے، کاش! نيک عملونه مې کړي وو، کاش! لمونځونه مې کړي وو، کاش! کاش! واورئ! قرآنِ کريم څه وائي:

يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِىْ قَدَّمْتُ لِحَيَاتِىْ ﴿۲۴﴾

(پاره:30، سورۀ فجر:24)

ترجمۀ کنزُ الايمان: هئې چې په څه شان ما په ژوندون نيکي مخکښې راليږلے وے---!!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** لږ سوچ خو اوکړئ---!! که چرې د قيامت په ورځ داسې اوشول نو زمونږ به څه کيږي- اوس وخت دے، نن د آخِرت فِکر اوکړئ، نن د قبر ښکلي کولو فِکر اوکړئ، په قبر کښې، حَشَر کښې، په پلِ صِراط باندې د کاميابئ موندلو د پاره د الله پاک په حُضُور کښې سر ښکته کړئ، په ژړا ژړا توبه کړئ، ګناه پريږدئ او د الله پاک د رضا والا کارونو کښې مصروف شئ-

مٹادے ساری خطائیں مِری مِٹا یارَبّ!
بنادے نیک بنا نیک دے بنا یارَبّ!

اندھیری قبر کا دِل سے نہیں نکلتا ڈر
کروں گا کیا جو تُو ناراض ہو گیا یارَبّ!

گنہگار ہوں میں لائِقِ جہنّم ہوں
کرم سے بخش مجھ کو نہ دے سزا یارَبّ!

رِہائی مجھ کو ملے کاش! نفس و شیطاں سے
تِرے حبیب کا دیتا ہوں واسِطہ یارَبّ!

میں کرکے توبہ پلٹ کر گُناہ کرتا ہوں
حقیقی توبہ کا کردے شَرَف عطا یارَبّ! [5]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[5]…وسائلِ بخشش،صفحہ:78 ملتقطًا۔

## دُنیا ته په آخِرت باندې ترجیح مه ورکوئ!

په 25 سیپاره، سورۂ شُوریٰ، آیت: 20 کښې الله پاک ارشاد فرمائي:

مَنۡ كَانَ يُرِيۡدُ حَرۡثَ الۡاٰخِرَةِ نَزِدۡ لَهٗ فِىۡ حَرۡثِهٖ‌ ۚ وَمَنۡ كَانَ يُرِيۡدُ حَرۡثَ الدُّنۡيَا نُؤۡتِهٖ مِنۡهَا وَمَا لَهٗ فِى الۡاٰخِرَةِ مِنۡ نَّصِيۡبٍ ﴿۲۰﴾

(پاره:25، سورۂ شوریٰ :20)

ترجمۂ کنزُ الایمان: څوک چې د آخِرت پټے غواړي مونږ به د هغه د پاره د هغه پټے زیات کړو او څوک چې د دنیا پټے غواړي مونږ به هغه له په هغې کښې څه ورکړو او په آخِرت کښې د هغه هیڅ حِصه نشته۔

صحابئ رسول، سلطانُ المُفَسِّرین حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللہ عَنۡہُ د دې آیت په تفسیر کښې فرمائي: کوم بنده چې دُنیا ته په آخِرت باندې ترجیح ورکړي (مثلاً د دنیا د مستقبل فِکر خو کوي خو په آخِرت کښې د کامیابئ فِکر نه کوي) د هغه د پاره په آخِرت کښې هیڅ حِصه نشته، آؤ! د هغه د پاره دوزخ دے۔ د دې سره سره دا وبال هم دے چې (د دنیا د مستقبل د پاره) د هغه د فِکرونو کولو به هیڅ نتیجه نه راوځي، هغه ته به په دنیا کښې صِرف هغه څه ورکولے شي، کوم چې د مخکښې نه لیکلے شوي دي۔ [6]

## د دنیا فِکرونه پرېږدئ! د آخِرت د پاره فارغ شئ!

د صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہ عَنۡہُ نه روایت دے، د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د 25 سیپارې د سورۂ شُوریٰ د دې آیت تلاوت اوفرمائیلو:

مَنۡ كَانَ يُرِيۡدُ حَرۡثَ الۡاٰخِرَةِ نَزِدۡ لَهٗ فِىۡ حَرۡثِهٖ‌ ۚ

(پاره:25، سورۂ شوریٰ :20)

ترجمۂ کنزُ الایمان: څوک چې د آخِرت پټے غواړي مونږ به د هغه د پاره د هغه پټے زیات کړو۔

بیا ئې اوفرمائیل: الله پاک فرمائي: اے د آدم اولاده! (د دنیا فِکرونه پرېږدئ او) د عبادت د پاره فارغ شئ! ستاسو سینه به د مالدارئ نه ډکه کړے شي او که چرې تاسو داسې نه کوئ (مثلاً د دُنیا فِکرونه کوئ، صِرف د دنیا د مستقبل په سوچونو کښې ئیئ) نو ستاسو زړه به د مصروفیاتو (مثلاً د دنیا د مشغولو) نه ډک کړے شي۔ [7]

---

[6]... تفسیر درّ منثور، پاره:25، سورۂ شوریٰ، زیرِ آیت :20، جلد:7، صفحہ:343۔

[7]... ابنِ ماجہ، کتاب :الزہد، صفحہ:668، حدیث:4107 ملتقطًا۔

## د دنيا په فِکرونو کښې اوسيدل د هلاکت سبب دے

د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مَسعُود رضی اللہ عنہ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم اوفرمائيل: چا چې خپل ټول فِکرونه صِرف يو فِکر يعني **د آخِرت فِکر** جوړ کړو نو الله پاک د هغه د پاره د دُنيا د فِکر د پاره کافِي دے او د چا فِکرونه چې د دُنيا په حالاتو کښې مشغول شول نو الله پاک به د هغه پروا نه کوي چې هغه په کومه وادئ [دَره] کښې هلاکيږي۔ [(8)]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د غور مقام دے! مونږه به خوراک په کوم ځائے کښې کوؤ! څه مو اغوستي دي؟ سحر خو مو اوخوړله، ماښام به د کوم ځائے نه راځي؟ مستقبل به څه وي؟ بوډاتوب به څنګه تيريږي؟ د ماشومانو مستقبل به څنګه وي؟ يو کاروبار خو روان شوے دے، اوس به بَل څنګه روانيږي؟ د يو ځائے نه ښه آمدن راځي، د آمدن نورې ذريعې به څنګه پرانستے شي؟ ګاډے، محل، بنګله به څنګه ميلاويږي؟ کاش! زه زر مالداره شم وغيره په زرګونو قِسم فِکرونه مونږ په زړه کښې پالو او ساتو ئې، په دې فِکرونو کښې سحر کيږي، په دې فِکرونو کښې شپه کيږي او ژوند داسې ختم شي۔ زمونږه آقا او مولیٰ، مکي مدني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائي: کوم بنده چې داسې فِکرونه پريږدي، صِرف يو فِکر، د آخِرت فِکر خپل کړي چې ماته په قبر کښې، په حشر کښې، په پلِ صراط باندې کاميابي حاصِلول دي، جنَّت ته تلل دي، الله پاک رضا کول دي، څنګه به ئې کووم؟ دا يو فِکر خپل کړي، الله پاک به د هغه د دې ټولو فِکرونو د پاره کافِي شي او کوم بنده چې دا يو فِکر خپل نه کړي بلکه د دنيا په فِکرونو کښې پروت وي، د الله پاک هيڅ پروا نشته چې هغه د دوزخ په کومه وادئ [دَرَه] کښې هلاکيږي۔

غمِ روزگار میں تو مرے اشک بہہ رہے ہیں
ترا غم اگر رُلاتا تو کچھ اور بات ہوتی

نہ فُضول کاش! ہنستا، تری یاد میں تڑپتا
مجھے چَین ہی نہ آتا تو کچھ اور بات ہوتی

یہی آہ! فکرِ دُنیا مرا دِل جلا رہی ہے
غمِ ہجر گر ستاتا تو کچھ اور بات ہوتی [(9)]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب          صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[8]... ابنِ ماجہ ، کتاب :الزہد ، صفحہ:668 ،حدیث:4106۔

[9]...وسائلِ بخشش،صفحہ:384۔

## د آخرت مينه وال جوړ شئ---!!

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اوفرمائيل: خلقو! آخِرت راروان دے، دنيا روانه ده- په دې کښې د هر چا مينه وال دي- تاسو د آخِرت مينه وال جوړ شئ! د دنيا مينه وال مه جوړيږئ--!! بے شکه نن د عمل ورځ ده، نن حِساب نشته خو سبا به د حِساب ورځ وي، هلته عَمل نشته- (10)

## يوه ايمان تازه کوونکې خطبه

حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ يوه ورځ خلقو ته په خطبه کښې اوفرمائيل: اے خلقو! زه تاسو ته د الله پاک نه د ويريدلو وَصيت کووم، تاسو تقویٰ اختيار کړئ او د خپل آخِرت د پاره نيکئ اوکړئ- بے شکه کوم کَس چې د آخِرت د پاره نيک عملونه کوي الله پاک به د هغه د دنيا حاجتونه پخپله پوره کړي- اے خلقو! تاسو د خپل باطِن د اصلاح کولو کوشش اوکړئ، الله پاک به ستاسو د ظاهر اِصلاح اوکړي- مرګ ډير زيات يادوئ او د مرګ نه مخکښې د خپل ځان د پاره د نيکو عملونو خزانه جمع کړئ، مرګ به ټول خوندونه ختم کړي- اے خلقو! تاسو د خپلو پلارانو نيکونو په حالاتو کښې غور او فِکر کوئ هغوئي هم دنيا ته راغلل او ژوند ئې تير کړو او لاړل دغه شان به تاسو هم لاړ شئ- که چرې تاسو د هغوئي انجام نه يادوئ نو مرګ به ستاسو د پاره ډير د سختئ سبب وي ځکه د مرګ نه مخکښې د مرګ تياري اوکړئ- (11)

کچھ نیکیاں کمالے جلد آخِرت بنالے | کوئی نہیں بھروسا اے بھائی! زندگی کا (12)

## د تقویٰ والوو يو صِفت

اے عاشقانِ رَسُول! **د آخِرت فِکر** ضروري دے- د وړومبئ سيپارې د سورۀ بقره په شروع کښې الله پاک د تقویٰ والوو 5 صفتونه ذِکر اوفرمائيل، بيا ئې اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| اُولٰٓىٕكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْۗ وَ اُولٰٓىٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ(۵)<br>(پاره:1 ،سورۀ بقره:5) | ترجمۀ کنزُ الايمان: دغه خلق د خپل رَبّ د طرف نه په هدايت باندې دي او هم هغوئي مُراد ته رسيدونکي دي- |

---

10... بخاري،کتاب:الرقاق،باب:فی الامل و طولہ ،صفحہ:1581 ـ

11...عيون الحکايات،صفحہ:83 ملتقطًا۔

12...وسائلِ بخشش،صفحہ:178۔

يعني په چا کښې چې دا 5 صفتونه دي، هغوئي د خپل رَبِّ کريم د طرف نه په هدايت باندې دي او دوئي په اَصل کښې کامياب دي- دا 5 صفتونه کوم کوم دي؟ د دې نه د ځان خبرولو د پاره د تفسيرِ صراطُ الجنان د سورهٔ بقره د وړومبئ رکوع تفسير اولولئ! په هغې کښې يو صِفت دا دے، اللہ پاک اوفرمائيل:

وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝ (پاره:1، سورهٔ بقره:4)

ترجمۂ کنزُ الایمان: او په آخِرت باندې يقين ساتي-

معلومه شوه: کوم چې تقویٰ والا دي هغوئي په آخِرت باندې اِيقَان لري- د اِيقَان معنیٰ ده: ډير پوخ يقين، په کوم کښې چې د يوې ذرې همره هم شک او شُبه نه وي- چې کله د يو څيز په باره کښې دومره پوخ يقين شي نو هغه په زړه او دماغو باندې راخور شي، انسان د هغې خِلاف هيڅ سوچ نه کوي-

## حضرت حَسَنِ بَصري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه او د آخِرت فِکر

د خپل وخت يو ډير لوئي امام، وَلِيِ کامِل حضرت اِمام حَسَن بَصَري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په تقویٰ والوؤ کښې دے- علامه اِبنِ جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي چې: ❁ امام حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې به کله تشريف راوړلو نو داسې به ښکاريدو لکه چې د نزدې دوست دفن کولو نه واپس راغلے وي ❁ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به داسې اوسيدل لکه چې اور د هغوئي په سر باندې زوړند وي ❁ داسې به کښيناستلو لکه چې يو قيدي دے او اوس به د ده نه سر کټ کولے شي ❁ سحر به ئې په داسې حالت کښې کولو لکه چې اوس د قيامت د وحشتونو نه تير شوے وي او راغلے وي ❁ يو ځل د هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نه چا د حال پوښتنه اوکړه نو اوئې فرمائيل: د سمندر په مينځ کښې چې د چا کشتئ ماته شي، هغه به هم زما نه په ښه حالت کښې وي- پوښتنه اوکړے شوه: داسې ولې؟ اوئې فرمائيل: زه ګنهګار بنده يم او کومې نيکئ چې مې کړې دي، هغه قبولې شوې دي، يا به زما په مخ باندې راويشتلے شي، ماته پته نشته- (13)

## حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُاللهِعَلَيْه او د آخِرت فِکر

❁ حضرت سفيان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: يو ځل د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په مَجلِس کښې خبرې

[13]... آداب الحسن بصری، صفحہ:25 و26 و27ملتقطاً۔

اترې رواني وې خو هغوئي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ بالکل خاموشه ناست وو، پوښتنه اوکړے شوه: حُضُور! څه خبره ده تاسو ولې خاموشه ئيئ؟ اوئې فرمائيل: زه د جنت والوو په باره کښې سوچ کووم چې هغوئي به څنګه په خوشحالئ خوشحالئ د يو بَل سره ملاقات کوي! خو دوزخيان خلق به يو بَل ته په بے قرارئ سره د مرستې د پاره چغې وهي- د دومره وئيلو سره هغوئي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په ژړا شول- (14) ❁ حضرت عمر بن عبد العزيز رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ يو ځل په ژړا شو، هغوئي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ئې چې په ژړا اوليدل نو د هغوئي بي بي محترمه حضرت فاطمه بنت عبدُ الملک رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہا هم په ژړا شوله وروستو ئې بيا نور کور والا هم په ژړا شول، کله چې د ژړا سلسله اودريدله نو عرض اوکړے شو: اے امير المؤمنين! تاسو ولې ژړل؟ اوئې فرمائيل: ماته د الله پاک په بارګاه کښې حاضريدل راياد شوي وو د کومې نه پس چې به څوک جنت ته ځي نو څوک به دوزخ ته، دې وئيلو سره هغوئي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ يوه چغه اووهله او بے هوشه شول- (15) ❁ د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د يو غلام بيان دے: زه به د شپې د هغوئي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په خِدمت کښې حاضريدلم، اکثر به هغوئي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د الله پاک د ويرې نه ژړل، يوه شپه هغوئي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د معمول نه زيات اوژړل- کله چې سحر شو نو ما عرض اوکړو: په تاسو باندې زما مور او پلار قربان شي! نن شپه خو تاسو داسې اوژړل چې مخکښې مو چرته داسې نه وو ژړلي- اوئې فرمائيل: ماته د الله پاک په بارګاه کښې د اودريدلو منظر راياد شوے وو- د دومره وئيلو نه پس په هغوئي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ باندې بے هوشي راغلله او ډير وخت پس په هوش کښې راغلے، د دې نه پس ما چرې هم هغوئي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په خندا نه دي ليدلي- (16)

ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یا الٰہی (17)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دې ته وئيلے شي: اِيقانِ آخرت- يعني په آخِرت باندې داسې پوخ يقين چې د شک او شبې هډو څه ګنجائش پاتې نه شي، **د آخِرت فِکر** په زړه او دماغو باندې راخور شي- په آخرت باندې داسې پوخ يقين، داسې اِيقان مطلوب دے- دا د تقویٰ والوو صفت دے- يقين اوکړئ! که چرې زمونږ هم داسې پوخ يقين نصيب شي نو د دنيا ټول فِکرونه به ختم شي- زمونږه کردار به هم ښه شي، اخلاق به هم ښه شي، عملونه به هم نيک شي، د ګناهونو عادتونه به هم پريښودے شي او مونږ به په صحيح معنو کښې په نيک مسلمان جوړيدو کښې کامياب شو-

---

[14]... سيرة و مناقب عمر بن عبد العزيز لا بن جوزى، صفحہ:214۔

[15]... حِلْيَةُ الاوليا،جلد:5 ،صفحہ:303، رقم:7201۔

[16]... سيرة و مناقب عمر بن عبد العزيز لا بن جوزى، صفحہ:216۔

[17]...وسائلِ بخشش،صفحہ:105۔

## د آخرت د فِکر نه لرلو بعضې وَجې

خو افسوس! ❀ د دنيا محبت ❀ د مال او دولت حِرص ❀ په فضولياتو کښې مشغولتيا ❀ د عزّت او مشهورتيا او منصب هَوَس ❀ د گناهونو زياتوالے ❀ او اوږدو اوږدو اُمّيدونو مونږه غافِله کړي يو، په زړه باندې د غفلت پردې پرتې دي او مونږه د **آخِرت د فِکر** نه ډير لرې يو، بس د دنيا د مستقبل ښه کولو په فِکر کښې شپې او ورځې تيروو۔

❀ مونږ ته په يقين سره دا معلومه ده چې مونږ ته يوه ورځ مره کيدل دي خو مونږه د مرگ تيارے نه کوو ❀ مونږ ته معلومه ده چې قبر ته کوزيدل دي خو زمونږ سره د قبر د تيرې، د يواځې والي او د وحشت فِکر نه وي ❀ مونږه مسلمانان يو، زمونږه يقين دے چې د قيامت په ورځ به مَړي راپاڅولے شي ❀ مونږ ته معلومه ده چې د قيامت ورځ ډيره وحشتناکه ده ❀ آه! هغه سرَه شوې زمکه ❀ اور وروونکے لمر ❀ هئې! هئې! هغه د دوزخ وحشتونه ❀ آه! په تيَرو کښې ډوب، د وينښته نه نَرے، د تورې نه تيره پل صراط ❀ آؤ! هغه د عمل تَله په کومه چې به د قيامت په ورځ عملونه تَللے شي ❀ آه! زمونږه عمل نامه، په کومه کښې چې به هر يو وړوکے او غټ عمل درج وي ❀ د قيامت په ورځ به د مخلوق په مخکښې زمونږه عمله نامه پرانستلے شي ❀ د جَبّار او قَهَّار رَبّ په بارگاه کښې به حاضري کيږي ❀ د يو يو نعمت، د هر يو عمل په باره کښې به پوښتنه کولے شي۔

مونږ ته د دې هر څه پته ده، منو ئې، په دې باندې يقين هم لرو خو افسوس! زمونږ سره فِکر نه وي ❀ مونږه په دنيا کښې داسې ورَک شو لکه چې هډو مره کيدل نشته ❀ **د آخِرت د فِکر** نه زړه خالي دے ❀ د الله پاک نه ويره ❀ د قبر ويره ❀ د آخِرت فِکر هيڅ هم نشته ❀ بس د دنيا په رنگينو کښې مَست ❀ يو عارِضي بلکه د کوم د راتلو چې يقين هم نشته، د داسې مستقبل په فِکر کښې شپې او ورځې تيروو۔ آه! دا غفلت---!!

دِل سے مرے دُنیا کی محبّت نہیں جاتی
سرکار! گُناہوں کی بھی عادَت نہیں جاتی

دِن رات مسلسل ہے گُناہوں کا تسلسل
کچھ تم ہی کرو نا یہ نحوست نہیں جاتی

گو پیشِ نظر قبر کا پُرھول گڑھا ہے
افسوس! مگر پھر بھی یہ غفلت نہیں جاتی[18]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[18]...وسائلِ بخشش،صفحہ:382 ملتقطاً۔

## مرګ به خامخا راځي ياد ساتئ---!!

اے عاشقانِ رَسُول! که مونږه ويخ يو که اوده، که خاندو او که ژاړو، غافِله شو او که بيدار شو، مرګ خو بهر حال راتلونکے دے، ژوند تلونکے دے، مونږ ته به د دې دنيا نه د آخرت په لور سفر خامخا کول وي- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِیْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِیْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَیْبِ وَ الشَّهَادَةِ فَیُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ۠ ﴿۸﴾

(پاره:28، سورۂ جمعه :8)

ترجمۂ کنزُ الایمان: تاسو اوفرمائیئ هغه مرګ د کوم نه چې تاسو تختئ نو هغه خو ضرور تاسو ته میلاویدونکے دے بیا به تاسو د هغه په لور اوګرځئ کوم ته چې پټ او ظاهر هر څه معلوم دي بیا به هغه تاسو ته اووائي څه چې تاسو کړي وو-

ہے یہاں سے تجھ کو جانا ایک دن
قبر میں ہو گا ٹھکانا ایک دن

منہ خدا کو ہے دِکھانا ایک دن
اب نہ غفلت میں گنوانا ایک دن

ایک دن مرنا ہے آخر موت ہے
کر لے جو کرنا ہے آخر موت ہے

یاد رکھ ہر آن آخر موت ہے
بن تُو مت انجان آخر موت ہے

مرتے جاتے ہیں ہزاروں آدمی
عاقِل و نادان آخر موت ہے

## په دنيا کښې داسې اوسيږئ لکه مُسَافِر---!!

صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبد الله بنِ عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يوه ورځ زه (د اوګې نه) اونيولم او اوئې فرمائيل: اے عبد الله بن عمر! په دنيا کښې داسې اوسيږه لکه چې نا اشنا ئې يا داسې لکه چې مُسافِر ئې او خپل ځان په مړو کښې شميره---!! حضرت مجاهد رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي چې: حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ماته اوفرمائيل: اے مُجاهده! چې سحر کړې نو د ماښام په باره کښې سوچ مه کوه! چې ماښام شي نو د سحر په باره کښې سوچ مه کوه! اے د الله بنده! بے شکه تاته معلومه نه ده چې سبا به ستا نوم څه وي؟ ( يعني چې تا به په ژوندو کښې شميرلے شي او که په مړو کښې)- (19)

[19]...مصنف ابن ابی شیبہ ،کتاب:الزہد،جلد:8 ،صفحہ:124،حدیث:3۔

## د مصطفٰے ﷺ د سيرت يو ډير ښائسته اړخ

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** افسوس! مونږ د دنيا د مستقبل فِكر خو كوو ولې د آخِرت فِكر نه كوو- آه! د كوم ځائے مستقبل--!! مستقبل خو لرې خبره ده سبا چا ليدلے دے؟ بلكه حقيقت خو دا دے چې مونږ ته د بَلې ساه هم عِلم نشته، پته نه لګي چې راځي به او كه نه- صحابئ رسول حضرت ابو سعيد خدري رضی اللہ عنہ فرمائي: يو ځل صحابي ابنِ صحابي حضرت اُسامه بن زيد رضی اللہ عنہ د يوې مياشتې په قرض باندې يو څيز واخستو- په دې باندې د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہ وسلم خبردارے وركړو او اوئې فرمائيل: آيا تاسو اُسامه ته حيران نه ئيئ، دا د يوې مياشتې په قرض باندې څيز اخلي؟ اُسامه اوږده اُمّيدونه ترلي دي- په هغه ذات مې دې قسم وي! د چا په قبضه كښې چې زما ځان دے! زه چې خپلې سترګې اوغړووم نو ګمان كيږي چې بيا به د سترګو پټولو نه مخكښې زما رُوح قبض كړے شي، كله چې زه يوه لمړئ خُلې ته اچووم نو ګمان كيږي چې په دې به شخوند اونه وهلے شم، د دې نه مخكښې به مرګ راشي- بيا ئې اوفرمائيل: **اے د آدم اولاده! كه چرې عقل لرئ نو خپل ځان په مړو كښې شمير كړئ!** [20]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم د سيرت خومره ښائسته اړخ دے- زمونږه آقا او مولٰی، مكي مدني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم به مرګ هر وختې مخې ته كيښودلو حالانكه هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم ته د وحي په ذريعه يقني طور معلومه وه چې اوس به مرګ نه راځي، دين به پوره كيږي، بيا به د دنيا نه رخصتې وي، د دې باوجود به هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم مرګ هميشه مخې ته كيښودلو- يقيناً دا زمونږه د غلامانو د تعليم د پاره دي ❀ ګنې نو هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم مالِكِ جنّت دي، هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم شافِعِ محشر دي ❀ د هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم په شفاعت باندې به اُمتيان جنَّت ته ځي ❀ د هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم سره الله پاک د مقامِ مَحمُود وعده فرمائيلې ده ❀ د هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم د دنيا نه د رخصت كيدلو نه مخكښې الله پاک هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم له اختيار وركړلو چې محبوبه صلی اللہ علیہ والہ وسلم! كه چرې په دنيا كښې قيام غواړئ نو ستاسو خوښه، كه زمونږ خوا له راتلل غواړئ نو راځئ! هسې هم په انبيائے كرامو علیہم السلام باندې مرګ صِرف د يوې لحظې د پاره راځي ❀ زمونږه آقا او مولٰی، مكي مدني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم د الله پاک په عطا سره اوس هم په خپل مزار مبارک كښې د دنيا د ژوند سره ژوندے دے-

تُو زِندہ ہے وَاللہ! تُو زِندہ ہے وَاللہ | مرے چشمِ عالَم سے چھپ جانے والے [21]

[20]...موسوعہ ابن ابی الدنیا،کتاب:قصر الامل ،جلد:3 ،صفحہ:305 ،حدیث:6۔
[21]...حدائق بخشش،صفحہ:158۔

آؤ! ❀ مونږ ته د خپل مرګ پته نشته ❀ د مرګ په وخت به زمونږه ایمان سلامت پاتې شي که نه، مونږ ته پته نشته ❀ د مرګ نه پس به زمونږه قبر د جنّت باغ جوړیږي که د دوزخ کنده، مونږ ته پته نشته ❀ د قیامت په ورځ به مو د الله پاک رحمت نصیب کیږي که نه ❀ د خوږ آقا، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبٰی صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شفاعت به بیامونځو که نه د ګناهونو په جُرم کښې به دوزخ ته غورځولے شو ❀ په پلِ صراط باندې به سلامت تیر شو که نه، مونږ ته پته نشته خو افسوس! مونږ ته مرګ نه یادیږي۔

آگاہ اپنی موت سے کوئی بشر نہیں | سامان سو برس کا ہے پَل کی خبر نہیں

## د دنیا د مستقبل فِکر کوونکي دې غور اوکړي!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سیرت په دې اړخ باندې غور اوکړئ! حضرت اُسامه بن زید رَضِیَ اللہ عَنْہُ صحابئ رسول دے او د صحابهٔ کرامو عَلَیْھِمُ الرِّضْوَان سره په قرآنِ کریم کښې د جنّت وعده فرمائیلے شوې ده، د دې باوجود حضرت اُسامه بن زید رَضِیَ اللہ عَنْہُ صِرف د یوې میاشتې په قرض باندې څیز واخستلو، د دې نه معلومیدله چې د هغوئي رَضِیَ اللہ عَنْہُ د یوې میاشتې پورې د ژوندې پاتې کیدو اُمِّید دے۔ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته خبردارے ورکړلو او دا احساس ئې ورکړلو چې یوه میاشت خو غټه خبره ده، د مرګ خو د یوې لحظې هم څه پته نه لګي۔

آه! افسوس! ❀ دلته خو صِرف د یوې میاشتې نه، د کلونو منصوبې جوړولے شي ❀ په ډیرو ملکونو کښې دا انداز دے چې ماشوم لا پیدا شوے هم نه وي، د هغې نه مخکښې په سکول کښې د هغه داخله کولے شي ❀ زمونږه بچے چې لوئي شي نو څه به ترې جوړیږي؟ ❀ مونږ به د هغه نه ډاکټر جوړوو که انجنیئر؟ ❀ چرته به اوسیږي؟ ❀ څنګه ژوند به تیروي؟ وغیره وغیره په دې باره کښې غټ غټ خوبونه لیدلے کیږي ❀ مونږه د خپل ځان په باره کښې هم منصوبې جوړوو ❀ غټ غټ خوبونه وینو ❀ نن زه دلته یم، سبا به هغه ځائے ته اورسیږم ❀ اوس یو دُکان دے، په یو څوو کلونو کښې به 4 دکانونه شي، بیا به پوره مارکیټ شي، بیا به په ډیرو ښارونو کښې د خپل کاروبار څانګې [Branches] پرانیزم، دا ټول خوبونه لیدلے کیږي، د څو څو کلونو منصوبې جوړیږي۔ اګرچه دا د دنیا په لحاظ سره ښه خبره ده، چې بنده مخکښې هدفونه مقرر کړي او وړاندې لاړ شي نو کامیابي میلاویږي خو چې مونږه غور اوکړو، چې د دې دنیا نه خو تلل هم دي، قبر ته هم کوزیدل دي، د قیامت په ورځ راپاڅیدل هم دي، د الله پاک په بارګاه کښې وړاندې کیدل هم دي، دې د پاره مونږه څه

منصوبه جوړه کړله؟ دې د پاره مو څه هدفونه مقرر کړل- لکه څنګه چې مونږه د روپو حساب کوو، د بچو د تعليم، کاروبار، بينک بيلنس وغيره په باره کښې هدفونه مقرر کړو، داسې چرته د قبر او آخِرت په باره کښې هم غور کوو؟ آيا چرته دا سوچ مو کړے دے چې زه هره ورځ څو لمونځونه کووم؟ د قرآنِ پاک د تلاوت په باره کښې زما څه هدفونه دي؟ هره ورځ څومره درود شريف لولم؟ د بچو د پاره مو چرته داسې منصوبه جوړه کړې ده؟ مثلاً د ماشوم چې کله عقل کار شروع کړي نو مونږه حساب اوکړو: که چرې دا د اوس نه هره ورځ مثلاً 100 ځله درود شريف لولي نو په مياشت کښې به 3000 ځل درود شريف لولي، په کال کښې به په 36زره 500 ځل په درود شريف لوستلو کښې کامياب شي، دا **د آخِرت فِکر** دے، دا د نيکو په باره کښې منصوبه ده- افسوس! مونږه د دنيا د مستقبل د ښه کولو د پاره خو خپلې منصوبې جوړوو، د بچو د پاره هم هدفونه مقرر کړو خو د قبر د ژوند ښه کولو، د آخِرت د ښه کولو د پاره منصوبې نه جوړوو- آه ---!!

*آگاہ! اپنی موت سے کوئی بشر نہیں　|　سامان سو برس کا ہے پل کی خبر نہیں*

## اوږد اُمِّيد د نني دور لويه مسئله ده

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ❀ زمونږه په معاشره کښې ګناهونه زياتيږي ❀ ورورولي ختميږي ❀ رورور د ورور ګريوان ته لاس اچوي ❀ د غلا، ډاکې او وژلو پيښې زياتيږي ❀ په کورونو کښې جنګ جګړې ❀ د جنګونو فسادونو وغيره وغيره مسئلې زياتيږي، آخِر دا ولې کيږي؟ په دې باندې ډير خلق تبصرې کوي، آخِر نُقص چرته دے؟ لوئي لوئي پوهان ډير څه وائي- راځئ! زه تاسو ته حديثِ پاک اوروم، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د دې اُمَّت مخکښينو خلقو د يقين او د دنيا نه د بے رغبتئ په ذريعه خلاصے بيامونډلو او په **آخِره کښې راتلونکي خلق د بُخل (يعني کنجوسئ) او د اوږدو اُميدونو په وجه هلاک شول-** [22]

دا دے د معاشرې د خرابئ اصلي وجه---!! کنجوسي او اوږده اُميدونه ❀ په مونږ باندې غفلت راخور دے ❀ مونږه **د آخِرت د فِکر** نه لرې يو ❀ زمونږ سره د دنيا د مستقبل فِکر دے او په دې فِکر کښې د خپل روښانه مستقبل په خاطِر د ګناهونو په تيارو کښې روان يو ډوبيږو حالانکه که د حقيقت په نظر اوکتلے شي

---

[22]...موسوعہ ابن ابی الدنیا،کتاب:الیقین،جلد:1 ،صفحہ:19 ،حدیث:3۔

نو مستقبل څه څيز نه دے، صرف او صرف حال (*Present*) دے، نن چې زه څه يم، سبا ماته جوړيدل دي که نه؟ ماته پته نشته- صِرف د يو خيالي [تصوراتي] څيز د پاره مونږه ټول منډې وهو، په مونږ کښې په لکونو خلق په دې منډو تَرړو کښې د قبر کندې ته رسيدلي دي، ډير زر به مونږه هم دغه کندې ته ورغورځيږو، دا دنيا، د دې دنيا عارضي او فاني مستقبل د نمرود، فرعون، هامان او قارون په شان د دنيا پرستو په کار رانغلے نو زمونږ به څه په کار راشي؟

## د انسان، مَرګ او اُمِّيد مثال

د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مَسعُود رضی اللہ عنہ نه روايت دے، فرمائي: يوه ورځ د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو څلور ګوټې ډبه (*Square Box*) جوړه کړله، په هغې کښې ئې دننه يوه کرښه راښکله، بيا ئې د هغه کرښې دواړو اړخونو ته وړې وړې کرښې راښکلې، بيا ئې د هغه کرښې نه بهر يوه کرښه راښکله، بيا ئې اوفرمائيل: دا (يعني د ډبې دننه يوه کرښه) انسان دے او دا (يعني د دې نه ګير چاپيره څلور ګوټې ډبه) دا مرګ دے، کوم چې انسان راګير کړے دے، دا وړې وړې کرښې، مختلف آفتونه دي کوم چې په انسانانو پورې انختې دي، انسان د يو نه بچ کيږي نو بل ټَک ورکوي او دغه (يعني د ډبې نه بهر والا کرښه) د انسان اُمِّيد دے- [23]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! دې عبرتناکه حديثِ پاک زمونږه د حالاتو پوره پوره عکاسي کړې ده- واقعي مرګ مونږه د څلور واړو اړخونو نه راګير کړي يو ❁ که مونږه خپل ګير چاپيره د مرګ په اَسبابو [وَجو] باندې غور اوکړو ❁ بجلي د مرګ ذريعه ده ❁ زمونږه ګاډے د مرګ ذريعه ده ❁ بيماري د مرګ ذريعه ده ❁ زمونږه خوراک چې زمونږه [ګيډې ته] دننه [لاړ شي نو هلته] زهر هم جوړيدے شي، ځکه دا هم د مرګ ذريعه ده، داسې غور اوکړئ، مرګ مونږه د څلورو واړو اړخونو نه راګير کړي يو او مونږه په مختلف قِسمه مسئلو کښې انختي يو ❁ کله بيماري راځي ❁ کله غريبي راځي ❁ کله د بچو فِکر ❁ کله خپل فِکر ❁ کله د خوراک فِکر ❁ کله د ګټې وَټې فِکر ❁ مونږه په زرګونو قِسمه فِکرونو او مسئلو او آفتونو کښې راګير يو، ولې زمونږه اُميدونه د کلونو دي، مونږ ته دا پته هم نشته چې سبا به لمر وينو او که نه خو منصوبې زمونږ

[23] ...بخاری، کتاب :الرقاق، باب:فی الامل وطولہ،صفحہ:1581،حديث:6417 ـ

سره د 100 کالو دي، خوبونه مونږ [په خپلو زړونو کښې] غټ غټ ساتلي دي- آه! پته نه لګي چې دا خوبونه به پوره هم شي که نه، بيا که چرې پوره هم شول، بيا هم مرګ خو بهر حال راتلونکے دے، قبر ته خو کوزيدل دي، د قيامت په ورځ د الله پاک په دربار کښې وړاندې کيدل خو دي---!! خو افسوس! د قبر، د قيامت زمونږ سره هيڅ منصوبه نشته دے-

## مونږ فضول خوبونه وينو

يو ځل يو عقلمند ګس خپل يو دوست ته خط اوليکو او ډير د عبرت نه ډَک نصيحت ئې اوکړو، هغوئي اوليکل: دا دنيا يو خوب او آخرت بيداري ده د دې دواړو ترمينځه (يعني د خوب نه د راپاڅولو والا څيز) مرګ دے او مونږه د خوب په حالت کښې پريشانه، ګډ وَډ خوبونه وينو- (24)

اے عاشقانِ رَسُول! دا حقيقت دے---!! مونږه خوبونه وينو، ګډ وډ پريشانه خوبونه او د هغه خوبونو د رښتيا کولو په خاطِر بَس ګډې وَډې منډې وهو، منډې وهو، زمونږه منزل چرته دے؟ څه پته نشته؟ اودريدل چرته دي؟ هيڅ پته نشته؟ مرګ مخې ته ولاړ دے، د قبر کنده د سترګو د وړاندې ده او مونږه بالکل فِکر نه کوو-

قَبْر میں مَیَّت اُترنی ہے ضرور | جیسی کرنی ویسی بھرنی ہے ضرور
ایک دن مرنا ہے آخر موت ہے | کرلے جو کرنا ہے آخر موت ہے

## 3 حيرانيدونکي خلق---!!

صحابئ رسول حضرت سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: زه دريو ګسانو حيران کړم او زه چې د دوئي په باره کښې سوچ کووم نو خاندم: (1): اوږدو اُميدونو تړلو والا خو مرګ هغه لټوي (2): غافِل خو ولې د هغه نه غفلت نه کيږي (يعني اګرچه که مونږه غافِله شو خو زمونږ نه غفلت نه کيږي، زمونږه پوره نګراني کيږي، کراماً کاتِبين يعني عملونه ليکونکي فرښتې يو يو عمل ليکي، الله پاک مو ويني، زمونږه اندامونه، دا زمکه، ټول زمونږه خلاف ګواهان تياريږي، قبر هره ورځ مونږ ته غږ کوي، مَلَکُ الموت عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک د حکم انتظار کوي، بَس حکم به اوشي او هغوئي به رُوح قبض کړي، غرض: څوک چې غافِله دي، د هغوئي نه غفلت نه کيږي، د هغوئي پوره نګراني کيږي) او (3): دريم ګس کوم ته چې حضرت سَلمَان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ حيران دے، اوئي فرمائيل: په ډکه خُله خندا کولو والا خو

---

[24]...موسوعہ ابن ابی الدنيا،کتاب:قصر الامل ،جلد:3 ،صفحہ:314 ،حديث:52۔

ولې هغه ته معلومه نه ده چې الله پاک د هغه نه رضا دے او که خفه۔ (25)

آگاہ اپنی موت سے کوئی بَشَر نہیں | ساماں سو برس کا ہے پل کی خبر نہیں

## دُنیا پرست به د آخِرت تیاري څنګه کوي؟

یو بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: خلق وائي: ورځې 3 دي۔ ❀ حالانکه پرونۍ [ورځ] تیره شوه او راتلونکې [ورځ] صِرف یو اُمید دے کیدے چې ته د سبا لمر اونه وینې۔ که چرې اودې لیدو نو هم راتلونکې [ورځ] به د ځان سره خپل رزق راوړي او که چرې ته د سبا لمر اونه وینې نو ته به د سوځنو خلقو د مینځ نه اوچتولے شې او یواځې قبر کښې به کینبودلے شې ❀ بیا د دې سره سره تا په خپل کمزوري زړه باندې د کلونو د فِکرونو بوج غورځولے دے ❀ د یخنۍ راتلو نه مخکښې ستا سره د یخنۍ فِکر وي ❀ د ګرمۍ راتلو نه مخکښې ستا سره د ګرمۍ فِکر وي ❀ تا په خپل کمزوري زړه کښې د آخِرت د تیارۍ د پاره کوم ځائے باقي [پاتې خالي] ساتلے دے؟

❀ هره راتلونکې ورځ ستا د ژوند یوه ورځ کموي او ستا سره هډو غم نشته ❀ هره راتلونکې ورځ ستا رزق کموي او ستا سره هډو فِکر نشته ❀ تاته ستا د ضرورت مطابق [هر څه] درکړے شول خو ته د عیش او عِشرت او د سرکشۍ سامان غواړې ❀ په لږه نه رضا کیږې ❀ په زیاته ستا ګیډه نه ډکیږي ❀ **آخِر د چا چې د دنیا خواهشونه د ختمیدو هډو نوم نه اخلي، هغه به د آخِرت تیاري څنګه اوکړے شي--!!** حیرانتیا، ډیره حیرانتیا ده په هغه باندې خوک چې په همیشه پاتې کیدونکې ژوند (یعني آخِرت) باندې ایمان خو لري خو ټول کوششونه د دې دهوکې د کور (یعني دُنیا) د پاره کوي۔ (26)

په 10 سیپاره، سورۀ توبه، آیت: 38 کښې الله پاک فرمائي:

اَرَضِيۡتُمۡ بِالۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا مِنَ الۡاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا فِي الۡاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيۡلٌ ﴿۳۸﴾

(پاره:10، سورۀ توبه :38)

ترجمۀ کنزُ الایمان: آیا تاسو د آخِرت په ځائے د دنیا په ژوند باندې رضا شوئ؟ نو د آخِرت په مقابله کښې د دنیا د ژوند ساز او سامان ډیر لږ دے۔

[25]...موسوعه ابن ابی الدنیا،کتاب:قصر الامل ،جلد:3 ،صفحه:309 ،حدیث:29۔
[26]...موسوعه ابن ابی الدنیا،کتاب:قصر الامل ،جلد:3 ،صفحه:316 ،حدیث:59۔

## د آخِرت د پاره کوشش اوکړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! يوه بَله خبره عرض کړم؟ دلته ډير داسې خلق دي کوم چې د کافِرانو اوچتې اوچتې ودانئ [آبادئ/کورونه] او د عيش او آرام ژوند ته ګوري او خفه کيږي حالانکه مونږه مسلمانان يو، زمونږه په يو لحاظ سره هم د کافِرانو سره څه موازنه نشي کيدے- دا [هر څه] الله پاک تقسيم کړي دي او دا ډير زبردست، بهترين او په هر لحاظ سره ښه تقسيم دے چې د کافِرانو د پاره دنيا ده، زمونږ د پاره آخِرت دے- دنيا خو د يو څو ورځو ده، ډيره زر به ختمه شي خو آخِرت به هميشه باقې وي- په 15 سيپاره سورۂ بني اِسرائيل، آيت: 18 او 19 کښې ارشاد دے:

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلٰىهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿۱۸﴾ وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۱۹﴾

(پاره: 15، سورۂ بني اسرائيل: 18، 19)

ترجمۂ کنزُ الایمان: څوک چې د تادئ والا (دنيا) غواړي نو مونږه چې چا له اوغواړو د هغوئي د پاره په دنيا کښې چې څه غواړي زر ورکړو بيا مونږه د هغوئي د پاره دوزخ جوړ کړے دے کوم ته چې به هغوئي رټلے شوي رَد کړے شوي داخليږي- او څوک چې آخِرت غواړي او د هغې د پاره داسې کوشش کوي لکه څنګه چې پکار دے او هغوئي ايمان والا هم وي نو دا هغه خلق دي د چا د کوشش قدر چې به کولے شي-

اے د جنّت غوښتونکو خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! فيصله مونږ ته پخپله کول دي، زمونږه دنيا پکار ده که آخِرت---؟ که چرې مونږ آخِرت غواړو، که چرې مونږه د آخِرت په هميشه باقي پاتې کيدونکي ژوند کښې آرام او سکون او د جنت نعمتونه غواړو او يقيناً هر مسلمان به هم دا غواړي نو مونږ له به د دې تيارے کول وي، د دې د پاره به د دنيا نه نظر اَړَوَل وي او د الله پاک د رضا والا کارونه به کول وي-

## د آخِرت فِکر به څنګه ميلاويږي---؟

د آخِرت تيارے به څنګه کيږي؟ د آخِرت د فِکر په ذريعه- کيدے شي چې زمونږه د ټولو تجربه شوې وي، مونږ هغه کارونه کولے شو د کومو طرف ته چې زمونږ پام وي، د کوم کار طرف ته چې پام نه وي که هغه هر څومره اهم کار ولې نه وي، مونږه ئې هيروو، ياد ئې نشو ساتلے- ځکه که چرې آخِرت پکار وي، د آخِرت تيارے کول وي نو د آخِرت فِکر به خپلول وي ❀ چې مونږه د آخِرت په حالاتو باندې غور کوو ❀ د قبر ❀ د حشر ❀

د قيامت ❀ د هغه ځائے وحشتونه ❀ ميزان [تَله] ❀ پلِ صِراط ❀ دوزخ او د هغه ځائے د عذابونو په باره کښې غور او فِکر کوو ❀ کم نه کم په هفته کښې يو نيم ځل هديرې ته ځو، هلته د دفن شوؤ مسلمانانو د پاره ايصالِ ثواب کوو، بيا هلته کښينو او د قبر، د هغه [قبر] په يواځې والي، تيرې او د وحشت په باره کښې غور کوو ❀ سوچ کوو چې ډير زر به ما هم تياره قبر ته کوزوي، بيا به د قيامت په ورځ پاځيدل وي، د الله پاک په بارګاه کښې به وړاندې کيدل وي، داسې د آخِرت په باره کښې غور او فِکر کوو ❀ هره ورځ که زيات نه وي نو کم نه کم 5 منټه ځانله ځائے کښې کښينو او د آخرت په معاملو باندې غور او فِکر کوو، چې هره ورځ ئې کوو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په زړه کښې به **د آخِرت فِکر** کښيني ❀ د آخِرت يادولو والا کتابونه لولو، مثلاً د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه کتابونه او رسالې لولو: مثلاً **(1)**:قَبْر کی پہلی رات **(2)**: مُردے کے صدمے **(3)**:بادشاہوں کی ہڈیاں **(4)**: قَبْر کا امتحان **(5)**: غَفلت **(6)**:بُرے خاتمے کے اسباب وغیرہ دغه شان د مکتبة المدينه ډير زيات کتابونه دي:مثلاً **(1)**:خوفِ خدا **(2)**:فکرِ مدینہ **(3)**:جنَّت کا آسان راستہ **(4)**: قبر میں آنے والا دوست **(6)**:دنیا سے بے رغبتی اور اُمّیدوں کی کمی وغیرہ کتابونه لولو- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! **د آخِرت فِکر** به مو نصيب شي-

## د آخِرت د فِکر په باره کښې د مصطفٰے ﷺ دُعا

❀ **د آخِرت د فِکر** موندلو د پاره دُعا هم کوئ- زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دا دُعا غوښتله:

**اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ دُنْيَا تَمْنَعُ خَيْرَ الْاٰخِرَةِ، وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ حَيَاةٍ تَمْنَعُ خَيْرَ الْمَمَاتِ، وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ اَمَلٍ يَمْنَعُ خَيْرَ الْعَمَلِ**[27]

ترجمه: اے الله پاکه! زه د داسې دنيا نه ستا پناه غواړم کومه چې د آخِرت د خير نه منع کوي، د داسې ژوند نه ستا پناه غواړم کوم چې د ښه مرګ نه منع کوي او د داسې اُمّيدونو نه ستا پناه غواړم کوم چې د نيک اَعمالو نه منع کوي-

## د انسان زړه د هغه د مال سره وي

يو ځل يو کَس په بارګاهِ رِسالت کښې حاضِر شو، عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په ما څه شوي دي چې زه مرګ نه خوښووم (يعني زما زړه د دنيا طرف ته مائله دے، زه په خپل زړه کښې د آخِرت طرف ته

[27]...موسوعہ ابن ابی الدنیا،کتاب:قصر الامل ،جلد:3 ،صفحہ:312 ،حدیث:46۔

میلان ځم بیامونځم او مرګ کوم چې جنّت ته د رسیدو لاره ده، زما دا مرګ خوښ نه دے) سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: آیا ستا سره مال شته؟ عرض ئې اوکړو: آؤ جي! اوئې فرمائیل: خپل مال (د آخِرت د پاره صدقه او خیرات کړه او ) وړاندې ئې اولیږه! ځکه چې د انسان زړه د هغه د مال سره وي، که چرې دا خپل مال وړاندې اولیږي (یعني صدقه او خیرات ئې کړي) نو د هغه سره به میلاویدل غواړي او که چرې مال وروستو پریږدي نو د هغه سره وروستو پاتې کیدل غواړي۔ (28)

ہمارے دل سے نکل جائے الفتِ دنیا | دے دل میں عشقِ محمّد مرے رچا یاربّ! (29)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د آخِرت د فِکر** موندلو یوه طریقه ښه صحبت هم دے، چې د نیک پرهیزګاره، د الله پاک نه د ویریدونکو، د آخِرت فِکر کولو والا خلقو سره کښینو نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! زمونږه به هم **د آخِرت فِکر** نصیب شي۔ د ښه صحبت [ناستې پاستې] حاصِلولو د پاره د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رسول سره په مدني قافِلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ، په خپل ښار کښې په کیدونکې هفته واره د سُنَّتو نه په ډکه اجتماع کښې شرکت کوئ، د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د عطا کړے شوې رسالې **نیک اعمال** مطابق د ژوند تیرولو کوشش کوئ، په مدرسة المدینه بالغان کښې شرکت کوئ او د قرآنِ پاک فیضان حاصِل کړئ، اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د هر خالي په ورځ د ماسخوتن د لمانځه نه پس په مدني چینل نیغ په نیغه (*Live*) مدني مذاکره کوي په دې کښې شرکت کوئ، په سوشل میډیا (یعني فیس بک (*Facebook*)، انسټا ګرام (*Instagram*)، واټس ایپ (*WhatsApp*)، ټوئټر(*Twitter*)، یوټیوب (*YouTube*)) باندې د دعوتِ اسلامي مختلف پیجز (*Pages*) جوړ کړے شوي دي هغه اوګورئ۔ الله پاک دې د عمل کولو توفیق راکړي۔

آمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: علاقائي دوره

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د آخِرت د فِکر** موندلو، د آخِرت د ژوند تیارئ کولو، د نیکو کولو او د ګناهونو

[28]...الزہد لابن المبارک، جز:5، صفحہ:208، حدیث:634۔
[29]...وسائل بخشش، صفحہ:82۔

نه د بچ كيدو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن اونيسئ، د دې په بركت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د سُنَّتو د پابند جوړيدو، د نيكو د شوق موندلو او د ايمان د حفاظت ذهِن جوړ شي- په 12 ديني كارونو كښې هم پوره برخه واخلئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خير به مو نصيب شي- په 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار دے: علاقائي دوره- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونكي عاشقانِ رسول په خپلو خپلو علاقو كښې ورځ او وخت مقرر كړي او كوڅې كوڅې، دُكان دُكان ته ځي، خلقو ته د نيكئ دعوت وركوي او هغوئي له جُمات ته د راتللو، د نيكو كولو او د قبر او د آخِرت د تيارئ ترغيب وركوي، دغه شان په مدني قافلو كښې سفر كولو والا عاشقانِ رسول هم د مدني قافلو د جدول (***Schedule***) مطابق د نيكئ د دعوت وركولو سعادت حاصلوي- تاسو هم په دې نيک كار كښې د برخې اخستو پوخ نيت اوكړئ! راځئ! ستاسو د ترغيب د پاره درته يو مدني سپرلے اوروم:

## د ګناهونو نه په ډک ژوند كښې ئې د نيكو سپرلے راغلے

د فتح جنګ (پنجاب، پاكستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخكښې ما د ګناهونو نه ډک ژوند تيرولو، فلمونه ډرامې كتل، خوشي تَشي ګرځيدل، په لوبو ټوقو كښې مشغولتيا زما د خوښې كارونه وو، آه! ما به لمونځونه هم قضا كول او د ګناهونو په ذريعه د دوزخ په لور روان ووم- زما د هدايت سبب داسې جوړ شو چې يو ځل زمونږ د كلي جُمات ته د دعوتِ اسلامي يوې مدني قافلې د نيكئ د دعوت وركولو د پاره تشريف راوړلو، د درس او بيان او د مازيګر د لمانځه نه پس د **علاقائي دورې** سِلسِله شروع شوه، په دوئي كښې يو اسلامي ورور زما خوا له راغلے او ځانله كوشش ئې اوكړو او ماله ئې په جُمات كښې د لمونځ ادا كولو او د قافلې والوو سره د زده كولو او نورو ته د ښودلو په حلقه كښې د څه وخت تيرولو دعوت راكړو، د دوئي په ترغيب باندې چې كله زه د جُمات د سپرلي فضاګانو ته داخِل شوم نو عاشقانِ رسول په ډيره مينه زما سره ملاقات اوكړو، په وړومبي ملاقات كښې چې مې دومره مينه او محبت اوليدلو نو زه دومره متاثره شوم چې د دعوتِ اسلامي محبت مې په زړه كښې كور جوړ كړو، تر څو پورې چې د زده كولو او نورو ته د ښودلو په مدنې حلقو كښې حاضِر ووم، د عِلم په مدني ګلونو مې د زړه باغ آباد وو، بيا د قافِلې امير ماته د **نيک اَعمَال** رساله راكړله، د دې رسالې په شكل كښې چې ما د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اصلاح د پاره خوارئ ته اوكتل نو لاس په لاس مې د بيعت د پاره نوم وړاندې كړو- داسې زه د قادِري، رضوي، عطاري په رنګ كښې رنګ شوم، د يو الله والا سره مې نِسبت څه جوړ شو چې زما په ژوند كښې د عمل سپرلے راغلے، زړه مې د ګناهونو نه بيزاره شو او د نيكو طرف ته مائله شو، ما د تيرو ګناهونو نه توبه كړله او د

دعوتِ اسلامي ديني ماحول مې د زړه او ځان نه خپل کړو۔ (30)

اسی ماحول نے اَدنیٰ کو اعلیٰ کر دیا دیکھو! | اندھیرا ہی اندھیرا تھا، اُجالا کر دیا دیکھو!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د کفن دفن ايپلي کيشن

اے عاشقانِ رَسُول! د ټيکنالوجي دور دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجۍ په ذريعه هم د عِلمِ دين عام کولو کوشش کوي۔ دې لړ کښې د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ د طرف نه مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، په کومو کښې چې يو موبائل ايپلي کيشن دے: ***Muslim's Funeral*** (کَفَن دَفَن)۔ په دې موبائل ايپلي کيشن کښې د مَړي د غُسل او کفن دفن وغيره په باره کښې ډير اهم معلومات ورکړے شوي دي او يوه خاص خبره دا ده چې مَړي له به غُسل څنګه ورکوې، کَفَن به ورته څنګه اچوې، د دې د عملي طريقې د پاره ***Animated Videos*** [متحرک ويډيوګانې] هم شامِلې دي۔ تاسو هم په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم۔ د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:

مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ

چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي۔ (31)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[30] ... دلوں کا چین، صفحه:4-6۔
[31] ...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

# کمې خبرې کول د مصطفٰے سُنَّت دي

**د مصطفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامين:** **(1)** د انسان په خاموشۍ باندې قائم پاتې کيدل د 60 کاله عِبادت نه بهتر دي۔[32] **(2)** خاموشي د اعلیٰ درجې عِبادَت دے۔[33]

**اے عاشقانِ رَسُول!** کمې خبرې کول د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❁ **اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ!** زمونږه آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوږدې خاموشۍ والا وو۔[34] ❁ هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ضرورت نه بغير د خلقو سره خبرې نه فرمائيلې، د هند بن ابو هاله رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بيان دے چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ضرورت نه بغير خبرې نه فرمائيلې بلکه اکثر به خاموشه پاتې کيدلو[35] د خاموشۍ نه مُراد دے: د دنيا د خبرو نه خاموشي ګڼې د حضورِ اَقدَس صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ژبه مُبارکه خو به د الله پاک په ذِکر کښې لمده اوسيدله۔[36]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ❁ خاموشي حِکمَت دے ❁ د کمو خبرو سره عقل کامِل وي ❁ کمې خبرې کول د عِبادَت چابي ده ❁ د کمو خبرو سره د عبادت مزه نصيب کيږي ❁ د کمو خبرو سره عزت، وقار او عِلم زياتيږي ❁ څوک چې د ضرورت نه بغير د خبرو کولو نه ځان بچ کړي، هغه په شيطان باندې غالب اوسي۔ الله پاک دې مونږ ته هم د کمو خبرو کولو، صِرف د ضرورت خبرې د خُلې نه د ويستلو او د فضول بق بق کولو نه د بچ کيدو توفيق را کړي۔

آمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

یاربّ! نہ ضرورت کے سوا کچھ کبھی بولوں | اللہ زباں کا ہو عطا قفلِ مدینہ
ہر لفظ کا کس طرح حِساب آہ! میں دوں گا | اللہ زباں کا ہو عطا قفلِ مدینہ[37]

د امروزه دعاګانو زده کولو د پاره **مدني پنج سُوره**، د صفحه: 182 نه د 227 پورې اولولئ، د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ!

[32]... شُعْبُ الْاِيْمَان، باب: حفظ اللسان، جلد:4، صفحه:245، حديث:4953۔
[33]... مسند الفِردوس، جلد:2، صفحه:417، حديث:3849۔
[34]... شرح السنه للبغوى، جلد:7، صفحه:450، حديث:3695۔
[35]... شمائل ترمذى، صفحه:353، حديث:225۔
[36]... مرآة المناجيح، جلد:8، صفحه:81۔
[37]... وسائلِ بخشش، صفحه:93۔

د سنت زده کولو یوه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| سادگی چاہئے، عاجزی چاہئے | لینے یہ نعمتیں، قافلے میں چلو |
| عاشِقانِ رسول، آئے سُنّت کے پھول | دینے لینے چلیں، قافلے میں چلو[38] |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

آمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[38]...وسائل بخشش، صفحہ:671۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[39] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللہ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

### ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[40] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

---

39... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون،ص۱۵۱ملخصًا
40... القول البدیع،الباب الثانی، ص۲۷۷

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ
صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرگانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[41] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[42] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[43] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د

---

41... افضل الصلوات علی سید السادات،الصلاۃ الثانیۃ والخمسون،ص۱۴۹
42... القول البدیع،الباب الاول،ص۱۲۵
43... الترغیب والترہیب،کتاب الذکر و الدعاء،۲/۳۲۹،حدیث:۳۰

لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[44] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[45] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

44... مجمع الزوائد،کتاب الادعية،باب فى كيفية الصلاة...الخ،۱۰/۲۵۴،حديث:۱۷۳۰۵
45... تاريخ ابنِ عساكر،۱۹/۱۵۵،حديث:۴۴۱۵